PROPERTY OF ACKU

اراده DAILY

د افغان نشراتي مرکز ملي خپلواکه ورځپاڼه

۹۸۳

سال تاسیس ۱۳۷۹ هـ. ش

یولسم کال – دویمه دوره، ۹۸۳ مه گڼه، پر له پسې ۲۰۵۰ گڼه د ۱۳۸۹ ل.د سلواغې ۳۰ مه – د شنبې ورځ، د ۱۴۳۲ هـ ق ربیع الاول ۱۵ مه د ۲۰۱۱ د فبروری ۱۹ مه

په خوست کې پرونې برید څلوېښت کسان مړه او ژوبل کړل

په خوست کې یوه موټر بم برید نژدې څلوېښتو کسانو ته مرګ ژوبله واړوله.

یاد شوی برید موټر بم برید پرون سهار د نهو بجو په شاوخوا کې د خوست بنار لویدیځ کې یوې امنیتي پوستې ته نژدې شوی دی. د خوست د عامې روغتیا رییس ډاکټر امیر بادشاه رحمت زي منګل ته وویل، چې له پېښې وروسته د خوست ملکي روغتون ته نهه مړي او دېرش ټپیان وروړل شوي دي. ۳مخ

د افغانستان یو شمېر زورواکي له ځینو کانونو ناوړه ګټه اخلي



د افغانستان حکومت د نړۍ د یو شمېر هېوادونو په مرسته هڅه کوي چې د کانونو را ایستل په پراخه سطح پیل کړي، خو په دې برخه کې چې د افغانستان د اقتصاد د پیاوړتیا اساس ګڼل کېږي، یو لړ ستونزې او خنډونه هم ترستر ګو کېږي.

افغان حکومت په تېرو نهو کلونو کې دا هلې ځلې کړي چې په ځینو مواردو کې یې پرمختګ هم کړی، خو کله نا کله یې دې هڅو لکه څنګه چې لازمه ده نتیجه نه ده ورکړې.

د افغانستان د کانونو وزیر وحید الله شهراني وایي، چې دا وزارت توانیدلی څو په راتلونکي لمریز کال کې د امریکا په مرسته ځینې مهم کانونه د ایستلو په هدف داوطلبۍ ته وړاندې کړي: "۲۸ معدني زیرمې چې ثابتې شوي او کوم معلومات چې مورې ورکړی وو، هغه د شپږو زېرمو په اړه وو، چې دا معلومات نېه په تفصیل دي او داوطلبۍ لپاره چمتو دي.

د حمل یا وري په میاشت کې د سرپل د قشقري د تېلو بلاک داوطلبۍ ته سپارو او بیا په اوړي کې د مزارشریف د تېلو حوزې داوطلبۍ ته سپارو."

په تېرو کلونو کې د کانونو د را ایستلو په برخه کې د افغان حکومت یوه ډېره مهمه لاس ته راوړنه د چین ام،سي،سي کمپنۍ ته د لوګر د مس عینک د کان ورکول وو، چې د را ایستلو لومړني کارونه یې له څه مودې راهیسې دوام لري.

خو د افغانستان په ځینو سیمو کې چې کانونه تثبیت شوي او په اسانۍ سره داوطلبۍ ته ورکول کېداې شي یا امنیتي ۳مخ

امریکا از استراتیژی نظامی جدید خود پرده برداشت

فرمانده عمومی قوای مشترک امریکا با اشاره به استراتیژی نظامی جدید این کشور در سال ۲۰۱۱، اهداف این استراتیژی را در راستای مبارزه آنچه افراط گرایی و تقویت امنیت بین المللی و منطقه یی خواند توصیف کرد .

به گزارش از خبرگزاری شینهوا، امیر البحر"مایک مولن "از استراتیژی نظامی این کشور در سال ۲۰۱۱ پرده برداشت که اولین بازبینی صورت گرفته از سال ۲۰۰۴ تاکنون می باشد و ارتش امریکا منافع ملی خود را بر اساس این استراتیژی پیش می برد.

فرمانده عمومی قوای مشترک امریکا در این یاد داشت نوشته است :زمانی که استراتیژی جدید امریکا مورد حمایت قرارگیرد، قدرت نظامی ما کارآمد تر و درهماهنگی با دیگرعناصر قدرت به عنوان بخشی از رویکرد سیاست خارجی خواهد بود.

بر اساس این سند، اهداف نظامی ص۳

افغان جګړه هره ورځ د یوه ماشوم ژوند اخلي

د ملګرو ملتو د یوه راپور له مخې په افغانستان کې په داسې حال کې د ورځې یو ماشوم وژل کېږي چې هم طالبان او هم حکومتونه



خواکونه په جګړه کې له کم عمرو کسانو کار اخلي.

ملګري ملتونه وایي چې له ماشومانو یا کم عمره هلکانو څخه په ځانوژونکو حملو، بمي بریدونو او د سړک د غاړې د بمونو په راایستلو کې کار اخیستل کېږي. راپور وایي چې د افغانستان په ملي پولیسو کې کم عمره هلکان، حتا دوولس کلن استخدام شوي دي. د ۲۰۱۰ کال د لومړیو شپږ میاشتو په جګړه کې لږ تر لږه ۱۷۶ ماشومان وژل شوي او ۳۸۹ نور ټپیان شوي وو چې دوړم کال په پرتله تر نیمایي زیات دي.

د تلفاتو اصلي شمېر ممکن تر دې خورا زیات وي، خو د هغو ۳مخ

آیا دولت به له زورواکو څخه غصب شوې ځمکې واخیستلای شي؟

که څه هم په افغانستان کې د غصب شویو دولتي ځمکو د بېرته اخیستلو لپاره هڅې روانې دي، خو دغه ستونزه ورځ تر بلې زیاتېږي، چې ان د ځینو چارواکو په وینا د بیارغونې پر بهیر یې هم ناوړه اغېزه کړې.

دا ستونزه د افغانستان په ټولو ولایتونو کې محسوسېږي، خو د چارواکو په وینا په نا ارامه ولایتونو کې د دولتي ځمکو د غصب مسئله ډېره جدي ده.

د افغانستان د کرنې وزارت د دې ستونزې د هوارې لپاره په خپل چوکاټ کې د ځمکې د اداري په نامه یوه جلا اداره جوړه کړې، چې د ځمکو د غصبولو پر ستونزې کار کوي.

د دې اداري عمومي رییس احمدشهیر شهریارازادی راډیو ته وویل، چې دغه اداره د ځمکو له غاصبینو سره د نورو ادارو په مرسته قانوني چلند کوي:)په دې ۵ میاشتو کې یو څه لاسته راوړنې لرو او اوس مور هر ولایت ته سفر ۳مخ

یک فرمانده ارتش امریکا:

نیروهای ویژه امریکایی در حال فرسایش هستند

یک مقام نظامی ارشد امریکا اخیراً اظهار داشت که‌در نیروهای عملیاتی ویژه امریکا در جنگ‌های عراق و افغانستان، تقریبا پس از ۱۰ سال نشانه‌هایی از فرسوده گی به چشم می خورد.

به گزارش خبرگزاری اسوشیتد پرس، امیر البحر " اریک تی اولسون" فرمانده ارشد نظامی امریکا خاطرنشان کرد: در حالیکه شمار نیروهای عملیات‌های ویژه طی ده سال گذشته با افزایش دو برابری به حدود ۶۰هزار تن رسیده، کل نیروهای ویژه یی که در عملیات‌های فرامرزی مستقر شده اند چهار برابر شده است.

حدود ۶۵۰۰ نیروی عملیات ویژه در افغانستان و حدود ۳۵۰۰ تن دیگر در عراق مشغول به فعالیت هستند.

به گزارش خبرگزاری اسوشیتد پرس،اولسون اظهار داشت که درخواست‌ها برای واحد های نیروهای ویژه، در افغانستان "سیری ناپذیر "است .

وی گفت که طی سال‌های آینده نیز هیچ کاهشی در درخواست ما برای نیروهای عملیات‌های ویژه صورت نخواهد گرفت.

بطور مثال وی تصریح کرد:در حالیکه ۱۰۰هزار نیروی معمولی از عراق خارج شده اند و فقط ۴۷ هزار تن در این کشور باقی مانده اند، فقط ۵۰۰ نیروی عملیات ویژه در قالب طرح خروج نیروهای امریکایی از عراق قرار گرفتند .

این فرمانده ارشد امریکایی در کنفرانسی ص۳



همکاری های مردم با دولت زمینه تأمین امنیت را فراهم می سازد ۲

همکاری های مردم با دولت زمینه تأمین امنیت را فراهم می سازد

نویسنده: جابر صافی



دولت افغانستان به چالش های مختلفی روبرو بوده است؛ از جمله بحران اقتصادی، امنیتی، اجتماعی و ...دولت ما که دریک مقطع زمانی بغرنج و از یک تاریکی مطلق به سوی روشنائی و امید گام گذاشته بود، طبیعی است که همه اقشار مردم خصوصاً کسانیکه در نابسامانی های روزگار قرار داشتند، از ایجاد دولت مردمی استقبال و حمایت نمودند تا یک دولت مشروع و منتخب اسلامی و افغانی تشکیل شود .زمان اندکی از پابرجایی دولت نگذشته بود که همه میخواستند مسیر صد ساله را یک شبه به پیمایند . توقعات و انتظارات بالا رفت و دولتی که هنوز نتوانسته بود خود را جمع و جور نماید با موج عظیمی از انتقادات روبرو شد. خصوصاً کسانیکه همیشه منافع شخصی را به منافع ملی شان ترجیح میدادند باعث دامن زدن و تشدید اختلافات شدند . این عمل به شکل واگیر همه جامعه را فرا گرفته و تبدیل به یک فرهنگ ملی شد . امروزه همه بدنبال انتقاد برآمده ایم اما بی خبر از آنکه افغانستان خانه مشترک ما افغان هاست و ما خود باید آنرا آباد سازیم .البته ناگفته نباید گذاشت هستند کسانیکه آب را به آسیاب همسایگان میریزند واین طبقه همیشه کوشش می نمایند تا اوضاع را بروفق مراد بادران خارجی شان بگردانند که متاسفانه بعضی از رسانه ها و میدیا نیز شامل این گتگوری میباشد .ولی باید نه تنها انگشت روی نکات منفی بگذاریم بهتر است گاه گاهی ازخوبی ها حرف بزنیم مثبت نگری کنیم ودرپی رشته تشویق آنانی باشیم که واقعآ قصد خدمتگذاری به این جامعه ومردم مظلوم را دارند .دراین شکی نیست که بعضی ازدولتمردان که جناب آقای کرزی در راس آن ها قراردارد، تلاش براین دارند تا صلح وثبات پایدار را که حق هرانسان درجغرافیای کشور ما میباشد به مردم شان برگرداند .مردمان این مرز و بوم همیشه و در همه حال حاضر به قربانی برای دست یافتن به رویای واقعی مردم این سرزمین که همانا صلح و تأمین امنیت است، میباشد .ولی بعضاً دیده میشود که دشمنان مردم افغانستان تلاش مینمایند تا پلان ها وطرز العمل خویش را به راحتی توسط عمال مزدور مرعی الاجرا نمایند . چنانچه به منظور دست یافتن به این امر تلاش همه جانبه و پیگیر نموده و با پشتیبانی همدیگر این کشتی را که همه برآن سواریم برساحل امنیت وآرامش برسانیم و دولت ومردم را یکجا نموده باشیم و حکومت افغان تافته ای جدابافته ازجامعه افغانی نیست بلکه خود اگر به تاریخ مراجعه شود شما پایداری حکومت ها را درافغانستان در اتحاد و یکپارچه گی خواهید احساس نمود .رویداد ها که همیشه ما به آن افتخار میکنیم وآن روزگاران را به رخ این و آن میکشیم چرا ما یکبار دیگر تاریخ ساز نشویم چرا باید همیشه به گذشته افتخار کنیم آیا ما فراموش کرده ایم که افغانیم وباید برای یکدیگر مثل یک افغان باشیم افغانی که حاضر است همه چیز خود را فدای این وطن کند .نگذاریم تا فاصله بین دولت ومردم بیشتر وبیشتر شود تا دشمنان وطن نهایت استفاده را به نفع خود برده وجامعه افغانی را به قهقرا بکشانند . میشود به آینده امیدوار بود خداوند "ج" را باید شکرگذار باشیم امروزه شما به راحتی میتوانید افکار ونظرات ص۳

د لوی او بښونکي خدای (ج) په نامه

سرمقاله

ځانګړې محکمه او ځانګړي شکونه

د ولسي جرګې د انتخاباتو موضوع دومره پېچلې او ګونګې مرحلې ته ورسېده، چې اوس يې د حل لپاره هره لار پر ګړنګونو وربرابرېږي، مانا دا چې هر څومره د سمون په لور رهبري کېږي، هومره د ناسمون او پېچلتیا په لور ځي. له هغې نېټې وروسته، کله چې د ولسي جرګې انتخابات وشول، د دغو انتخاباتو په هکله ګڼ اختلافونه او شکونه راپیدا شول او حتا د داسې درغلیو او ټګیو- برګیو خبرونه ورکړل شول، چې پر ټاکنو يې مستقیم ناوړه اغېز غورځولی شوای، خو هغه وخت موضوع دومره توده نه وه، ځکه هغه وخت د ټاکنو پایلې نه وې معلومې او کله چې د ټاکنو قسمي پایلې معلومې شوې، نو ورو ورو د دولتي او نادولتي کړیو او ولس په منځ کې دا موضوع را وښورېده، خو کله چې د ټاکنو بشپړې پایلې اعلان شوې، نو موضوع بېنه ګرمه، پېچلې او ان دې حد ته راورسېده، چې لویې ځارنوالۍ خو له سترې محکمې وغوښتل، چې د ټاکنو پایلې باطلې اعلان کړي او د دوی په وینا ټاکنې له سختو درغلو ډکې او دا درغلۍ نه یوازې دا چې د خلکو له خوا شوي، بلکې د ټاکنو په کمېسیون کې هم درغلۍ شوې دي. بلاخره خبره دې ته ورسېده، چې د لویې ځارنوالۍ د ځېړنو پر بنسټ سترې محکمې له کرزي وغوښتل، چې د ټاکنو په هکله د شکایتونو او درغلیو او یا جرمي دوسیو د ځېړلو او ارزولو لپاره دې ځانګړې محکمه جوړه شي او کرزي هم د همدې هدف لپاره ځانګړې محکمه جوړه کړه. له دې محمکې سره په لومړي سر کې مخالفتونه کم وو، خو وروسته يې په اړه سخت مخالفتونه را وټوکېدل او دې مخالفتونو هغه وخت نور هم زور واخیست، چې کرزي د ولسي جرګې له اوسنیو غړو څخه لیکلې هوکړه واخیستله او له هغوی سره يې دا شرعي کړه، چې یادې محکمې که هره پرېکړه وکړه، دوی به يې مني او پر همدې بنسټ.يې ولسي جرګه هم پرانېستله. خو ځو ورځې وړاندې اوسنۍ ولسي جرګې په غوڅ اکثریت او د رایو په اتفاق پرېکړه وکړه، چې ځانګړې محکمه دې لغوه اعلان شي. له دې نه داسې ښکاري او دا شک سړي ته پیدا کوي، چې ښایي د ولسي جرګې اوسنۍ ډېری غړي به په درغلیو سره راغلي وي او په دې سره به نه غواړي، چې محکمه د دوی په مورد کې کومه پرېکړه وکړي او له دې سره جوخت د ټاکنو او ټاکنیزو شکایتونو د اورېدلو کمېسیونونه هم په یوه خوله د ټاکنو د پایلو په اړه هره پرېکړه او هره محکمه ناقانونه بولي او پر خپلو کړنو ټینګار کوي. بله د یادونې او مهمه خبره د دغې محکمې په هکله ده، چې ایا ځانګړې محمکه به هم رښتینې او پر ځای پرېکړه وکړي او ایا د دولت او نورو بهرنیو او کورنیو کړیو اغېزې به پرې نه وي او ایا په رښتیا به هم دا محکمه د قانون له مخې عمل کوي او پرېکړه به يې قانوني وي؟ دا هغه شکونه او اندېښنې دي، چې د یادې محکمې په اړه شته، ځکه د ټاکنو کمېسیونونه هم د کرزي له خوا جوړ شوي او محکمه هم، نو دا چې په خپله د دولت او ځینو نورو کړیو له خوا د ټاکنو پر کمېسیونونو د درغلیو، فساد او شک تورونه لګول کېږي، نو ایا پر یاده محکمه نه شي لګول کېدای او ایا دا محکمه په ورته معاملو کې نه شي ښکېلېدای؟ په مجموع کې دا ټول هغه شکونه او اندېښنې دي، چې له ولس سره شته او ولس يې د لرې کېدو په هیله او د موضوع د حقیقي حل په تمه شپې او ورځې تېروي.

افغانها دشمن خود را شناخته اند

سمیرا عدیل

افغانستان سرزمین دلیر مردان و آزادی خواهان بوده که در ادوار مختلف تاریخ مورد تجاوز بیگانگان قرار گرفته ولی با پای مردی و رشادت، مردم این سرزمین توانسته اند کشور را از یوغ سلطه بیگانگان آزاد سازند و شکست شرم آوری را نصیب متجاوزین نمایند .همین دلیری و شجاعت مردم غیور افغانستان مسبب کینه و خشم کشور های همسایه گردیده که از اثر دسایس گوناگون کشور ما را بیشتر از سه دهه در آتش جنگ قرار داده تمام هستی ما را به خاک یکسان نموده و باز هم تلاش دارند تا به هر شکلی شده افغانستان را در بحران جنگ نگهدارند تا اگر بتوانند از طریق یک مشت افراد اجیراهداف شوم خویش را که در سر می پرورانند برآورده سازنند .

بعضی از گروه هاییکه از نام مقدس اسلام استفاده سوء نموده دست به جنایات نابخشو دنی مانند حملات انتحاری، کشتن افراد بیگناه، بدار کشیدن اطفال، سنگسار نمودن و ده ها جنایات دیگر که این همه نمایانگر دشمنی آنها با مردم افغانستان میباشد، می زنند.

مگر خوشبختانه که مردم دلیر و مسلمان افغانستان با چهره های شوم و فروخته شده انها بیش از پیش آشنایی حاصل نموده اند. زیرا کشور ما سرزمین مردمان خداجو و با ایمان بوده که از قوانین اسلام وشریعت اگاهی کامل داشته هرگز فریب بیگانگان و غلامان شان را نخواهند خورد بجز یکعده افراد بی خبر از اسلام وشریعت که بخاطر برآورده ساختن اهداف و پلان های بیگانگان دست به اعمال نابخشودنی زده دنیا و آخرت شانرا خراب می سازند، زیرا عمل خودکشی و کشتن افراد بیگناه و انجام جنایات بیرحمانه علیه مردم بیگناه خود از جمله اعمالی اند که شریعت اسلام آنرا گناه بسیار بزرگ شمرده است. انجام دادن اعمال غیر انسانی به همه ملت شجاع افغان هویدا گردیده و میدانند که این گروه ها بخاطر برآورده شدن اهداف بیگانگان دست به خشونت علیه مردم ما میزنند و میخواهند یکبار دیگر کشور را بطرف بی ثباتی، ناامنی و خشونت سوق داده و به لانه تروریستان مبدل سازند، فراموش نموده اند ص۳

امریکا از استراتیژی نظامی...

ملی امریکا در راستای مبارزه با افراط گرایی و تقویت امنیت بین المللی و منطقه یی و ترکیب نیروهای ارتش اعلام شده است.

در این سند همچنین آمده است :امریکا به همکاری با کشورهای مسئوول و عضو سازمان پیمان اتلانتیک شمالی ادامه می دهد .در حقیقت ناتو هم پیمان ایالات متحده باقی می ماند اما امریکایی ها با اتحادیه افریقا، اتحادیه کشورهای جنوب شرقی آسیا و دیگر گروهها برای ارتقای قوای نظامی خود همکاری می کنند.

نیروهای ویژه امریکایی در ...

خبری در واشنگتن گفت :نه به اندازه نیروهای عالی اما باید شمار نیروی ویژه که از دو جنگ عراق و افغانستان خارج می شوند افزایش یابد . ما شاهد فرسوده گی نیروهای عملیاتویژه امریکا هستیم .

نیروهای عملیات ویژه به جز عراق و افغانستان در برخی مناطق حساس جهان از جمله یمن نیزمستقر هستند .

اولسون افزود یکی از دلایل فرسوده گی و کاهش بازدهی نیروهای عملیات این است که نیروهای بیشتری در مقایسه با سال گذشته در حال کناره گیری از سمت‌هایشان هستند.

همکاری های مردم با دولت ...

خود را بیان کنید، تحصیل کنید، کارکنید، در آمد داشته باشید و صدها موارد مختلف دیگر که قبلاً ما از آن ها محروم بودیم .قابل تذکر است که هیچ دولتی خالی از مشکلات نیست چه رسد به کشوری مثل افغانستان که نابسامانی ها اکثراً از همسایه گانی است که همه از آن آگاهی کامل داریم زمان آن رسیده تا با دل و جان فرد فرد این وطن وظیفه وجدانی واسلامی خود را درمقابل مردم و وطن خویش به شکل اساسی وبنیادی ادا نماییم .که همانا آوردن امنیت، تأمین صلح سراسری و انکشاف افغانستان در پرتو قانون اساسی و نظام منتخب و مشروع موجود در کشور خویش واقع گردیم.

افغانها دشمن خود ...

که دیگر مردم مسلمان ما فریب دساسیس شوم آنها را نخورده خواهان زنده گی پرسعادت در زیر بیرق دولت اسلامی شان بوده و تلاش میورزند تا در قسمت آبادانی کشور سهم فعال داشته تا از این طریق به زخم های جنگ های سه دهه در کشور مرحم گذار باشند و به امید روزی زنده گی مینمایند تا کشور ما در قطار کشورهای پیشرفته و کره خاکی زمین قرار گرفته و به همه مشکلات خط پایانی گذاشته شود و ملت افغان زمین همانند مردمان کشور های دیگر زنده گی پر سعادتی را در فضای اخوت ، برادری و برابری با هم سپری نموده ، دشمنان قسم خورده این سرزمین مرد خیز شرم سار گردیده و بد بختی های که توسط شان دامن گیر ما گردیده دامن گیر شان شده و با سرنوشت مردم زجر کشیده افغانستان دچار گردند. انشا الله .

د افغانستان یو شمېر زوړواکي...

ستونزې دي او یا هم یو شمېر زوړواکو پرې خپله اچولې ده او ورځنۍ شخصي او ناوړه ګټه اخلي.

د کابل پوهنتون د اقتصاد د پوهنځي استاد سیف الدین سیحون همدې موضوع ته اشاره کوي او وایي، چې لومړی باید د افغانستان په بېلابېلو برخو کې کانونه د امنیتي ځواکونو تر کنټرول لاندې راوستل شي او بیا د شفافو قراردادونو پر اساس په نړیواله کچه داوطلبۍ ته وړاندې شي:"د افغانستان د زېرمو د ګټې لپاره لومړی د هغو د استخراج او منابعو سرمایه ډېره اړینه ده او له دې ځنه هم ډېر مهم را نه قراردادونه دي او دا قراردادونه باید د افغان دولت له خوا وڅېړل شي او قرارداد وشي."

د ښاغلي سیحون په خبره افغان حکومت باید دې ته پام وکړي، چې له کانونو ځنه را ایستل شوي مواد د افغانستان په دننه کې پروسس شي، ترڅو هم خلکو ته کارونه ډېر پیدا او هم یې ډېره ګټه دې هېواد ته ورسېږي.

دا څرګندونې په داسې حال کې کېږي، چې د امریکا د دفاع وزارت د افغانستان د سروې له اداري سره په ګډه یوه فضایي سروې ترسره کړې چې له مخې یې د دې هېواد په سلو کې ډېرش کانونه په نښه شوي چې مجموعي ارزښت یې درې ټریلیونه یا درې زره میلیارده ډالرو ته رسېږي. د افغانستان عام خلک هم پر دې باور دي چې په دې هېواد کې د نا امنیو او تاوتریخوالي یو اساسي لامل بې کاري او د خلکو کمزوری اقتصاد دی، دوی غوښتنه کوي چې افغان حکومت باید د کانونو په را ایستلو کې بېړه وکړي تر څو خلکو ته کارونه پیدا او له دې سره په دې هېواد کې امنیت هم ټینګ شي:"خلک ټول بې کاره دي او ټول افغان د ګټو لپاره بهرنیو هېوادونو ته ځي او دا بې کاري د غلا، وژنې او نور ناوړه اعمالو سبب ګرځي او که خلکو ته د کار زمینه برابره نه شي، نو امنیت هم ښه کېدای نه شي."

د کانونو وزارت وایي، هڅه کېږي چې د افغانستان د کانونو د را ایستلو په برخه کې بهرني پانګه وال وهڅوي او هر کان به هرې کمپنۍ ته د یوې ځانګړې لایحې او نړیوالې داوطلبۍ له مخې ورکړل شي.

د افغانستان ولسمشر حامد کرزي هم څه موده مخکې د نوې ملي شورا د پرانیستلو په مراسمو کې د افغانستان کانونه د دې هېواد د اقتصادي پیاوړتیا لپاره مهم وبلل او ویې ویل چې افغان حکومت د کانونو اساسي ایستلو ته پاملرنه زیاته کړې ده:"کله چې له بهرنیانو سره کېنئ نو په ډېر ډپ او غرور کېنئ ځکه مورږغریبان نه یو، بلکې ډېرې پیسې لرو خو ښځې دي او باید چې را ویې باسو. دا کانونه د افغانستان او پرمختګ لپاره یې یوه ښه زمینه ده، خو په یو شرط چې ایستل یې فني او سم وي اوعاید یې د افغانستان دولت او خلکو ته ورسیږي.

د امریکا د دفاع وزارت وایي، چې د افغانستان په سلو کې ډېرش کانونه د پخوانې شوروي اتحاد د شوې سروې د معلوماتو پر اساس په نښه شوي او دوی هڅه کوي چې د افغانستان د کانونو وزارت د دې جوګه کړي چې د کانونو د را ایستلو په برخه کې هرکار په خپله ترسره کړي، د امریکا د دفاع وزارت مرستیال پاول برینکلي په دې اړه وایي:"د امریکا هدف دا دی، چې د افغانستان د کانونو د وزارت وړتیا لوړه کړي ترڅو په راتلونکو کلونو کې دوی په خپله وکولای شي خپل پراختیایي پلانونه په نښه او کار پرې وکړي. مورږ پر دې ډاډه یو چې په راتلونکې کې د دې کار تر سره کول د افغانستان د جیولوژیکي اداري له تجربه لرونکو او ماهرو کارکونکو سره شونی دی."

د افغانستان د کانونو وزارت ډاډ ځرګندوي، چې هرکان به په پوره شفافیت او غور سره داوطلبۍ ته وړاندې او د را ایستلو په ټوله پروسه کې به یې د افغانستان ګټې په بشپړه توګه په پام کې نیول کېږي. د کانونو وزیر وحید الله شهراني وایي، چې له کانونو څخه تر لاسه شوي عواید به د مالیې وزارت په مرسته را ټوله او په پوره امانتداری به د افغانستان ملي خزانې ته ولېږدول شي:"د دې هوکړلیک پر اساس د کانونو په وزارت کې یو ټیم جوړېږي او د هغه پر اساس یو واحد هم هلته ایجادېږي او د هغه واحد د ایجادولو لپاره مورږ تخنیکي مرستې اخلو."

د خپرو شویو معلوماتو له مخې د افغانستان په بېلابېلو سیمو کې بېلابېل کاني مواد شته چې په بلخ، جوزجان او سرپل کې د نفت او ګازو، په لوګر کې د کرمیتو او مس عینک، په شمال خیتځ کې د سروزرو، په پنجشیر کې د زمردو، په بدخشان کې د لعلو، په هلمند کې د یورانیمو، په لویدیځ کې د بیرایتو، په بامیان کې د جاجي ګک د اوسپنې او ځینې نور داسې مهم کانونه یادولی شو. د ازادي راډیو د راپور له مخې، اقتصاد پوهان وایي، که چېرې افغان حکومت د نړیوالو په مرسته له دغو کانونو څخه په فني او اساسي ډول ګټه واخلي او د را ایستلو ټوله لړۍ یې په سمه او دقیقه توګه وڅاري، نو افغانستان به د سیمې او نړۍ په سطح له اقتصادي پلوه یو ځواکمن هېواد او خلک به یې په جګړو کې نه، بلکې په ارامۍ او ثبات کې ژوند وکړي.

آیا دولت به له زوړواکو څخه...

کوو او د افغان د ځمکې اداره والیانو ته او نورو چارواکو ته ورپیژنو. مورږ ته د غصب قضیې راځي چې معمولا زوړواکي په کې لاس لري .

د ښاغلي شهریار زیاته کړه، چې له زوړواکانو څخه د ځمکو ېبرته اخیستل، وخت ته اړتیا لري. په افغانستان کې په دې وړوستیو کلونو کې د جګړې له پراخېدو سره سره د ځمکو غصبېدل هم پراخ شوي، چې د رپوټونو له مخې ډېرې دغه ځمکې د زوړواکانو له خوا په ناامنو ولایتونو کې غصبېږي.

د هېواد په جنوب کې هلمند یو له هغو ولایتونو څخه دی، چې له دې ستونزې سره مخامخ دی. د هلمند والي ګلاب منګل په دغه ولایت کې د دولتي ځمکو غاصبین د یوې غښتلې مافیا غړي وبلل، چې د ده په وینا په دغه ولایت کې یې د بیارغونې بهیر ټکنی کړی.

که څه هم اړوند چارواکي، د ځمکو د غاصبینو نوم نه اعلانوي خو وایي، چې که د زوړواکانو له خوا د دولتي ځمکو د ولکه کولو مخه ونیول شي، نو پر ډېرې بې کوره کسانو به د کور نو د جوړولو نومړي ووېشل شي او د کور خاوندان به شي. د چارواکو په وینا اوس مهال شاوخوا درې میلیونه جریبه دولتي ځمکه او په سلګونه جریبه د خلکو شخصیي ځمکې او کورونه په ناقانونه توګه نیول شوي او ان تر دې چې یوې برخې ته یې جعلي سندونه هم جوړ شوي دي. افغان دولت په وار وار د هغو کړیو پر وړاندې، چې دولتي ځمکې غصبوي، د پرېکنده دریځ د غوره کولو ژمنه کړي، خو د رپوټونو له مخې اوس هم د دولتي ځمکو د لاندې کولو بهیر روان دی.

افغان جګړه هره ورځ د یوه ...

د شمېر معلومول سخت دي ځکه چې جګړې په هغو سیمو کې کېږي چې د دولت وسلوال مخالفان پرې واکمن دي.

د بانکي مون له لوري په دې خپاره شوي راپور کې دا هم ویل شوي چې په افغانستان کې د ماشومانو پرضد زیات او سخت تشدد شوی او دی د افغان ماشومانو د ساتنې لپاره د نورو اقداماتو غوښتنه کوي.

د ملګرملتو راپور وایي، تحقیقاتو هغه ادعاوې تایید کړي چې له ماشومانو څخه د چاودنکو موادو په وړلو او یا ډېر ځلي بې له دې چې پر ځان خبر وي، په ځانوژونکو حملو کې کار اخیستل شوی دی.

په یوه مورد کې د دولت وسلوالو مخالفانو د افغانستان د شمال په سمنګان ولایت کې د یوه کم عمره هلک په لاسګاډي کې، بې له دې چې هغه خبر شي، بم کېښود او کله چې ماشوم د والي دفتر ته نژدې شو د ریموټ کنټرول په وسیله یې بم والوځاوه چې په نتیجه کې یې ماشوم ووژل شو. د ملګرو ملتو د سرمنشي په راپور کې دا هم ویل شوي چې طالبانو حتا اووه کلن ماشومان هم ناټو ځواکونو ته د جاسوسۍ په تور اعدام کړي دي. راپور همداراز وایي، «سره له دې چې په ځلورو برخو ملکیانو کې درې د وسلوالو یاغیانو له لوري وژل شوي، د ناټو ځواکونو هم په هوایي بمباریو او چاپو کې ماشومان وژلي دي.» خو د سرمنشي په راپور کې نه دي ویل شوي چې د ناټو ځواکونو په بمباریو کې څومره ماشومان وژل شوي دي. راپور وایي چې افغان ماشومان د پولیسو په لیکو کې له دې سره سره ګومارل شوي چې مقررات شته چې په پولیسو کې یو څوک تر هغو نه شي شاملېدای چې د اتلس کلنۍ عمر ته نه وي رسېدلی. په راپور کې د یوه دوولس کلن هلک یادونه شوې چې د پولیسو یونیفورم یې په ځان کې و او وسله یې یې په لاس کې. د غه هلک په کندهار کې د موټرو تلاشي اخیسته. همداراز په پوستو کې کم عمره هلکان لیدل شوي چې دوډۍ یې پخوله یا یې لوښي مینځل او یا یې چای دماوه.

په خوست کې پرونې برید...

نومورې وایي، چې په وژل شویو کسانو کې دوې ښځې هم شاملې دي او په ټپیانو کې د ځلورو کسانو روغتیایي حالت د اندېښنې وړ ښودل شوی دی. ډاکټر امیر بادشاه وویل، چې په وژل شویو او ټپیانو کې ښځې او ماشومان هم شامل دي، چې له سیمې څخه د تېرېدو په حال کې وو. د خوست امنیه قوماندان مل پاسوال عبدالحکیم اسحاق زي تاند ته وویل، چې په برید کې د دوی یو پولیس وژل شوی او دوه نور ټپیان دي، چې روغتیایي حالت یې ښه دی. نومورې دغه راز وویل، چې د پېښې ډېرې قربانیان ملکي وګړي، ځکه چې برید له پولیسو څخه له لرې واټن کې شوی دی. د یاد شوي برید مسولیت د وسلوالو طالبانو یوه تن ویاند ذبیح الله مجاهد پر غاړه اخیستی دی، نومورې ویلي، چې برید د عرفان په نامه د دوی یو تن ملګري د یوه سرف موټر په وسیله تر سره کړی، چې په پایله کې یې دیارلس پولیس وژل شوي دي، خو قوماندان اسحاقزي دوسلوالو طالبانو دغه ادعا په کلکه رد کړه.

د ولسي جرګې مشر به کله ټاکل کېږي؟!

نسیم بریال



د ولسي جرګې د مشر د ټاکلو پر سر ناندرۍ او شخړې نړدې یوې میاشتې ته رسېږي، خو تر اوسه هم د دې جرګې غړي یوې سالمې موافقې او جوړجاړي ته نه رسېدلي او د هرې ورځې په تېرېدو سره دا مسئله بحراني سختېږي. باید ووایو، چې د ولسي جرګې د مشر د ټاکلو لپاره ځلور ځلې ټاکنې ترسره شوې او په همدې ځلورو ځلونو کې هېڅ نوماند هم د حاضرو غړو اکثریت یانې پنځوس + یو پوره نه شوای کړای. که څه هم تر درېیم ځل ټاکنو وروسته د جرګې ډېرې غړو غوښتنه کوله، چې نور به د ټاکنو په لور نه ځي، خو کله چې ځلورم ځل ټاکنې هم بې پایلې راووتې، نو دا مسئله نوره هم جدي شوه. تر دې وروسته د جرګې غړو د حاضرو رایو په اکثریت سره پر دې موافقه وکړه، چې یوې ځانګړې کمېسیون دې جوړ شي او دغه روان کړکېچن حالت دې پای ته ورسوي. د دغې جرګې لنډ مهاله مشر محمد سرور عثماني د سلواغې پر ۲۵مه وویل، چې په دغه کمېسیون کې به له هغو ولایتونو څخه، چې په جرګه کې له لسو څخه کم غړي لري، یو استازی او هغه ولایتونه، چې لس او یا له لسو څخه ډېر غړي ولري، دوه استازي ولري.

د عثماني په وینا، دغه کمېسیون به له جوړېدو وروسته یوه طرحه جوړه او د جرګې عمومي غونډې ته به یې وړاندې کړي، که د ډېرو وکیلانو دا خوښه وه، نو عمل به پرې کېږي او که نه نو بله لاره به لټول کېږي.

که په دقیقه توګه سړی ځیر شي، نو ویلای شي، چې د ولسي جرګې د مشر پر سره د دغه روان کړکېچن حالت تر شا ځینې بهرني او کورني لاسونه شته او غواړي په دې ډول حالت جوړولو سره خپلې موخې په نښه توګه ترلاسه کړي. په کورنیو لاسونو کې سړی د دولت پالیسي، ته هم ګوته نیولی شي، ځکه د ولسمشر اصلي غوښتنه داوه، چې تر هغو باید ولسي جرګه افتتاح نه شي، تر څو چې د ټاکنیزو شکایتونو او درغلیو په اړه جوړه شوې ځانګړې محکمه خپله پرېکړه ونه کړي. خو دا چې بریالي اعلان شوي وکیلان پر ولسمشر زور شول او ولسي جرګه یې وربانده پرانېسته، نو اوس ښایي ولسمشر هم خپلې غوښتنې په پام کې ولري او په جرګه کې د خپلو کسانو په واسطه داسې یو حالت جوړ کړي، چې په ترڅ کې یې نوموړی خپلې موخې ته ورسوي او یا یې ورنژدې کړي. د یادونې ده، چې ښایي ځانګړې محمکه یو شمېر بریالي اعلان شوي غړي د بریالیو نوماندو له لېسته بهر کړي او پر ځای یې نور نا بریالي غړي اعلان کړي او په دې سره ښاغلی کرزی په جرګه کې خپله فیصدي پوره کړي، دا ځکه چې په اوسمهاله اعلان شویو نوماندو کې د ښاغلي کرزي تله سپکه ده او د ده د مخالف لوري تله په کې ښه درنه ده او دا په حقیقت کې د ده لپاره یو سیاسي ډز او ګوزار هم دی. نو د همدې لپاره ښایي نوموړی نه غواړي، تر هغو چې محکمې پرېکړه نه وي کړې، د جرګې مشر وټاکل شي، ځکه چې د محکمې تر پرېکړې مخکې د جرګې مشر وټاکل شي، نو تر هغه وروسته جرګه رسمي مشروعیت پیدا کوي او هره پرېکړه یې رسمي بڼه لري، هغه وخت دوی بیا منظمې غونډې کولای شي او پرېکنده تصمیم غوره کولای شي. د دې تر څنګ ښایي ځینې نور کورني او بهرني په ځانګړې توګه ګاونډي لاسونه هم شتون ولري او د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره دې کړکېچ حالت ته لمن ووهي، خو دا چې اصلي خبره او اصلي حقیقت به څه وي، دا ښایي د ځانګړې محکمې تر پرېکړه وروسته معلوم شي او بیا به وګورو چې دغه روانه د شطرنج لوبه به اخر څوک ګټي او څوک به د ولسي جرګې مشر کېږي؟

تور لېست د پخلاینې پر وړاندې تر ګردو لوی خنډ!

یوه جګپوړي افغان مقام دوې ورځې وړاندې په لندن کې وویل چې د افغانستان له حکومت سره سولې ته د طالبانو لېوالتیا مخ په زیاتېدو ده، خو د ملګرو ملتو په تور لېست کې د طالبانو د غړیو نومونه په دې برخه کې د پرمختګ مخه نیسي. د ملګرو ملتو د امنیت شورا د طالبانو او القاعده د تحریمونو کمېټه، چې د ۱۲۶۷ نمبر پرېکړه لیک پر اساس په ۱۹۹۹ کې جوړه شوه، د دغو دواړو ډلو د غړیو پر سفر او شتمنیو بندیز لګولی شي. په افغانستان کې د افغان چارواکو او لوړپدیځو پوځیانو په منځ کې دا باور مخ په ډېرېدو دی چې د دې هیواد د ټولو تریخوالو د پای ته رسېدو لپاره له وسلوالو طالبانو سره روغه جوړه پکار ده. د ولسمشر کرزي د ملي امنیت د سلاکار مرستیال شیدا ابدالي په لندن کې په یوې خبري غونډې کې خبریالانو ته وویل: «زه په پوره ډاډ ویلی شم چې د پخلاینې لپاره د طالبانو په منځ کې لېوالتیا مخ په زیاتېدو ده. مور غواړو چې یو لړ سیاسي ګامونه واخیستل شي، یانې د امنیت شورا د ۱۹۶۷ پرېکړه لیک په ارتباط ځینې جدي اقدامات وشي څو اعتماد رامنځته شي او طالبانو ته وښودل شي چې مور د پخلاینې په برخه کې جدي یو. یانې کله چې دوی پخلا کېږي، منل کېږي، پر سفر یې بندیز پای ته رسېږي او نور قیودات وربانده نشته.» ده وویل افغانستان د پخلاینې لپاره هلې ځلې کوي، خو طالبان بیا بیا دا غوښتنه کوي چې د ملګرو ملتو له تور لېسته دې د دوی نومونه وایستل شي. ښاغلي ابدالي د ملګرو ملتو د تور لېست څارونکې کمېټه وغندله او د دې په ترڅ کې چې دا لېست یې په افغانستان کې د سولې په لار کې خنډ وبالله له هغه څخه یې د طالبانو د نومونو وایستلو غوښتنه وکړه. د ملګرو ملتو د امنیت شورا ځینو غړیو هېوادونو له تور لېسته د طالب مشرانو د نومونو وایستلو د نظر هرکلی کړی، خو دیپلوماتان وایي، روسیه چې د امنیت شورا دایمي غړې ده، له سخت دریځه او د هغوی له لوري د مخدرو موادو د قاچاق له درکه اند پښمنه ده او له تور لېسته د طالبانو د نومونو له ایستلو سره مخالفت کوي.

کنوانسیون رفع کلیه تبعیضات علیه زنان

ماده شانزدهم :۱– دول عضو کلیه اقدامات مقتضی را به منظور رفع تبعیضات علیه زنان در زمینه مسایل مربوط به ازدواج و روابط خانواده گی به عمل خواهند آورد، تا براساس اصل برخورداری مردان وزنان از حق مساوی و یکسان موارد زیر بالاخص مراعات شده باشد.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱

این پیام از طرف کمیسیون مستقل حقوق بشر افغانستان تقدیم گردید

برای نشر اعلانات تان به این شماره ها تماس حاصل نمایید: ۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴ / ۰۷۸۳۱۶۰۴۵۰ – ۰۷۰۰۵۹۶۲۰۵ / ۰۷۹۷۸۵۹۰۴۰

ارادهٔ ورځپاڼه یوازې د سرلیکنې ننګه کوي، نورې لیکنې د لیکوال خپل نظر دی، ورځپاڼه یې مسولیت پر غاړه نه اخلي.

حق الاشتراک:
قیمت یک شماره: (۵) افغانی
سالانه: ۲۰۰۰ افغانی
شش ماهه: ۱۰۰۰ افغانی
برای موسسات و سفارتخانه ها:
سالانه ۳۰۰ دالر امریکایی
شش ماهه ۱۵۰ دالر امریکایی

مرکز نشرات افغان
روزنامهٔ ملی اراده
موسس و صاحب امتیاز: حاجی سید داؤد
مدیر مسوول: خادم احمد
موبایل: – ۰۷۰۰ ۵۹۶۲۰۵
Khadem.kabul@yahoo.com
معاون: استاد مرتضی فرحتیار
موبایل: – ۰۷۹۷۲۵۳۱۶۴
Farhatyarm@yahoo.com

ادیتور پشتو: مجیب الرحمن امیری
موبایل: – ۰۷۰۸۸۸۷۰۶۶
دیزاین: انجنیر محمدجمیل "امیری"
همکار تخنیکی: محمدجمیل "احمدی"
مسوول توزیع و بازاریابی: عبدالسمیع
۰۷۰۰۲۴۴۳۸۴
ایمیل:
erada.daily@yahoo.com
آدرس: دهمزنګ، عقب سینمای بریکوت، سرک اول کارته چهار.

ERADA DAILY
Afghan Media Resource center
Establisher and Concessionaire:
Haji sayed Daud
Editor in chief: Khadem Ahmad
Editor: Farhat yar
Pashto Editor: Mojiburahman Amiri
Designer: Eng, Mohammad Jamil Amiry
Address: Behind Baree kout-cinema,
first street of karti-e-char
Email: erada.daily@yahoo.com